(١)

## د شهادت مفهموم او د شهيدانو مرتبه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکې دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَالشُّهَدَاءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ»**ژباړه:« همغوی د خپل رب په وړاندي صادقان (رښتيني کسان) او شاهدان دي. د هغو لپاره د هغو (د کړنو) اجر او (د ايمان) رڼا ده.»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمايي: يقينا زه ددي لپاره را ليږل شوی يم چې نيک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا الله جل جلاله پخپلو بندانو کې ځيني خلک غوره کړي او هغوي يې په شهادت باندي ځانګړی کړي دي لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ»ژباړه:« پر تاسي دا مرحله ځکه راوستل شوه چي الله دا کتنه غوښتله چي په تاسي کښي رښتيني مؤمنان څوك دي، او د هغو خلکو انتخابول يې غوښتل چي په واقعي توګه (د رښتينولۍ) شاهدان وي؛» دا چې د شهادت معنی ډيره لوړه ده نو مقصدونه يې هم بيلابيل دي ديته شهداء ځکه ويل کيږي چې الله جل جلاله او د هغه ملائکې

به د شهيدانو لپآره به په جنت باندي ګواهي ورکوي او دوي ژوندي دي او د الله په نزد هغوي ته روزي ورکول کيږي او همدارنګه پدي باندي به شاهدي ورکوي چې دوي لپآره جنتونه تيار کړي دي او همدارنګه پدي باندي به ګواهي ورکوي چې الله جل جلاله به خپلي وعدي ددوي سره پوره کوي او همدارنګه ځيني نوري معنی ګاني هم شته چې ددغه لفظ مرتبه پری زياتيږي او د شهيدانو د مرتبې په هکله الله جل جلاله فرمايي:«وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَنْ يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ * سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ * وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ» ژباړه:« او کوم کسان چي د الله په لاره کښي ووژل شي، الله به د هغو عملونه هيڅکله ضايع نکړي؛ *الله به هغو ته لارښوونه وکړي، د هغو حالت به سم کړي؛ *او هغوی به هغه جنت ته ننباسي چي د هغه ښه والی يې ورپيژندل دی».
او شهيدان د الله جل جلاله رحمت ته هيله او اميد لري ځکه چې دوي خپل روح د خپل هيواد د دفاع په برخه کې او همدارنګه د الله په لاره کې قرباني کړي دي او همدارنګه د شهادت مرتبه يی ترلاسه کړی ده او داسی سوداګری ده چې هرومرو ګټه لري پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ»ژباړه:« حقيقت دا دی چي الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کښي اخيستي دي.» نو د شهادت مرتبه الله جل جلاله د الله په نزد د لوړو مرتبو څخه ګڼل کيږي.

شهادت د الله په نزد دري ډوله دی: یو داچې ډیر لوړ مرتبه او ځاي لري او هغه دا چې د دښمن په وړاندي شهید شي چې د خپأ هیواد په دفاع کې ولاړ ووسي او د الله جل جلاله رضا لپآره جړه وکړي پدي هکله پیغمبر (ص) فرمایلي دي:الله جل جلاله ته ددي دوه څیزونو نه بل څه ډیر خوښ ندي یو هغه څاڅکې د سترګو چې د الله په لاره کې هغه تویه شي او هغه څاڅکي د ویني چې د الله په لاره کې هغه وبهیږي.

یو بل ډول شهادت چې په مرتبه کې دده څخه کم ندي هغه دا چې څوک د خپل هیواد په ساتنه کې شهید شي او د هغي شتمني ساتنه وکړي او یا هم د هغه د لوړوالي لپآره کار کوي لکه هغه پولیس چې د عبادت ځایونو ساتنه کوي او هغه کسان چې د سیلانیانو ساتنه کوي چې زمونږ هیوادنو ته راځي د هغه د آثارو ساتنه کوي نو که چیرته ده لار کې شهید شي نو هغه د خپل کار په اخلاص کې شهید شوی دي نو پدي هغه په بشپړ ډول هغه خپل دنده سرته رسولی ده نو دا هم د الله په لاره کې د شهادت مرتبه ده لکه هغه عام موظف چې د عام مال ساتني په لار کې شهید نوهغه هم د الله په لار کې شهید ګڼل کیږي.

او همدارنګه هر هغه څوک چې د خپل نفس او یا د بل چا په دفاع کې او یا هم د خپل ځان او د بل د ابرو په دفاع کې شهید شي او یا هم د مال په ساتني او مړ شي نو هم شهید ګڼل کیږي پدي همله نبي کریم (ص) فرمایلي دي:څوک چې د خپل مال په دفاع کې ووژلي شي هغه شهید دی او څوک چې بغیر د وینې نه چې قصاص وربانديي وي او وژلي شي نو هغه شهید دی او څوک چې

د خپل دين په دفاع کې ووژلی شي نو هغه شهيد دی او څوک چې د خپل کورنی په دفاع کې ووژلي شي هغه شهيد دی دا ټول هغه کسان دي چې د خپل هيواد ارزښتونو ساتنه کوي او هغه مالونه او نفسونه او ابرو ساتنه کوي چې اسلام مبارک دين په هغه باندي تجاوز حرام ګرځولی دی او پدي باندي امر کړي چې د هغه ساتنه وشي او دفاع تري وشي پيغمبر (ص) فرمايلي دي: د هر مسلمان په بل مسلمان باندي وينه مال او آبرو حرامه ده.
دا چې شهادت يوه ورکړه ده چې الله جل جلاله د خپلو خلکو کې غور خلکو ته ورکوي چې د انبياؤ او رسولانو وروسته راځي نو دوي د قيامت په ورځ به لوړي مرتبې لري او د شهادت د اغيزو او د ثمرو څخه يو هم دادی چې شهيدان د مرګ احساس نکوي پيغمبر (ص) فرمايلي دي:چې شهيد د مرګ احساس نکوي او په بيللابيلو احاديثو کې پدي باندي ټينار کړي دي همدارنګه شهيدان د قبر د عذاب څخه به په امن کې وي، يو سړي پيغمبر (ص) ته وويل چې اي د الله رسوله ايا دا سمه ده چې مومنان به په قبر کې پوښتني به تري کيږي مګر شهيد؟ هغه وفرمايل: آيا دا بسنه نکوي چې پدي دنيا کې د خپل سر په بدل کې توري کارولي دي، همدارنګه د هغوي نيک کارونه هيڅکله لمنځه نزي پيغمبر (ص) په بيلابيلو احاديثو کې پدي باندي ټينګار کړی دي چې شهيدانو اعمال به د قيامته ورځه پوري به همداسی دوام کوي او همدارنګه لوي ثواب دی ځکه شهيد لکه څنګه چې شهيد کړی شی نو د هغه ټول ګناهونه معاف کيږي او په جنت کڅ ځاي ورکول کيږي اود قبر د عذاب څخه په امن کې پاتي کيږي.

همدارنګه شهید به د قیامت په ورځ په ډیر عزت سره راپاڅولی کیږی او د هغه څخه به د مسکو بوي ځي پیغمبر (ص) پدي هکله فرمایلي دي: زما د په هغه ذات باندي قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی چې هیڅوک به د الله په لاره کې خبره نشي کولي او الله ډیر ښه پوهیږي  په هغه چا چې د الله په لاره کې ځانونه قرباني کړي دي دوي به د قیامت په ورځ چې راځي نو د مسکو بوي به تری ځي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

زمونږ شهیدان به تل د امت په حافظه کې همداسی تل ژوندي پاتي وي ځکه چې هغوي د قربانی او دشرافت اود میړاني تاریخ پریښي دی او که د الله خوښه شي نو دوي ته به حقیقي ژوند ورکوي چې همیشني دي هیڅ مثیل او سیال نلري پدي هکله الله جل جلاله فرمایي:« وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ

أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ*فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ * يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ»ژباړه:« کوم کسان چي د الله په لار کښي وژل شويدي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقيقت کښي ژوندي دي، د خپل رب په وړاندي روزي مومي؛ *څه چي الله د خپلي لورېني له مخي هغو ته ورکړيدي، پر هغه خوښ او سوکاله دي؛ او پدې ډاډه دي چي کوم مؤمنان چي له هغو وروسته په نړۍ کښي پاتي دي او لا تر اوسه پوري هلته نه دي رسېدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او کړاؤ نشته. *هغوی د الله په لورينه او د هغه په مهربانۍ خوشحاله او سوکاله دي، او هغو ته څرګنده شوېده چي الله د مؤمنانو اجر نه ضايع کوي.»،همدارنه نبي کريم (ص) هم په بيلابيلو احاديثو کې په همدای باندي ټينګار کړي دي او ويل يی دي چې شهيدان به د الله په نزد په لوړه مرتبه کې وي او همدارنګه د هغي روحونه او د قيامت په ورځ به پداسی حال به راپاڅول کيږي چې د هغوي روحونه او بدن څخه به د مسکو بوي ځي.

هغه څوک چې د الله جل جلاله څخه د شهادت غوښتنه وکړي او په صداقت او په اخلاص سره دا وغواړي نو الله به د هغه مرتبه به ورپه برخه کوي پدي هکله نبي کريم (ص) فرمايلي دي: څوک چې د الله څخه د شهادت مرتبه په صداقت سره وغواړي نو الله (ج) به هغه د شهيدانو مرتبه ورکړي اګر که هغه پخپل کټ کې

هم مړ شي نو د هغه چا هڅه چې د خپل دين اود هيواد د شتمنيو ساتنه وي او پدي لاره کې هغه مړ شي نو شهيد ګڼل کيږي.
نو د هغه چا لپاره د خوښي او مبارک وي چې الله جل جلاله د شهادت لپآره غوره کړي ځکه چې هغي ته يې پدي باندي عزت ورکړی دی چې د انبياؤ او ريښتينو خلکو او د صالحو او د نيکانو سره به وي او همدارنګه د هغوي ترڅنګ به وي همدارنګه پدي هکله الله (ج) فرمايي:« وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا» ژباړه:« څوك چي د الله او پيغمبر اطاعت وکړي، نو د هغو خلکو ملګري به وي چي الله پېرزوېنه پر کړېده؛ يعني: پېغمبران، رښتيا ويونکي، شهيدان او صالحان. د هغو ملګرتيا څومره ښه ده چي چا ته په برخه شي».

**الله جل جلاله دی زمونږ په شهيدانو باندي ورحميږي زمونږ ګران هيواد د نورو هيوادونو سره يو ځاي وساتي**